# د پلِ صِراط 7 مرحلې

**27 Shab-e-Qadr 1446H**



د شبِ قدر د اِجتماع بیان

(For Islamic Brothers)

د شبِ قدر د اِجتماع بیان

27 مارچ، کال 2025ء (بمطابق 26 رَمَضَانُ المُبَارَک شریف، کال 1446ھ (د زیارت او د جُمعې پهٔ مینځنۍ شپه)

# د پل صِراط 7 مرحلې

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... شبِ قدر د فرښتو د راکوزیدو شپه ده
- ...پهٔخوب لیدلو یې ویښته سپین شول
- ... د بې نمانځه درې شامتونه
- ... د صِله رحمی 10 فائدې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ما باندې درودِ پاک لوستل په پلِ صِراط باندې نُور دے، څوک چې د جُمعې په ورځ په ما باندې 80 کرته درودِ پاک ولولي، د هغهٔ به د اتياؤ [80] کالو ګناهونه معاف شي. [1]

ذاتِ والا پہ بار بار دُرود | بار بار اور بے شمار دُرود
بے عدد اور بے عدد تسلیم | بے شمار اور بے شمار دُرود [2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د درودِ پاک هم څومره نااشنا شانونه دي، پلِ صراط کوم چې د ويښته نه نرے، د تورې نه تيرهٔ او په تيارهٔ کښې ډوب دے، دلته په دُنيا کښې د محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حضور کښې د درودِ پاک نذرانې وړاندې کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په پلِ صراط به درته نُور ميلاؤيږي، دهغې په رڼا کښې به په پلِ صراط تيريدل اسان شي. علّامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: د قيامت په ورځ چې به کله خلق په پلِ صراط باندې تيريږي، هغه وخت به د سرکارِ عالي وقار، مکي

1...جامع صغير، صفحه:320، حديث:5191۔
2...ذوقِ نعت، صفحه:124123 ملتقطاً۔

مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخ مبارک نُور وځليږي، کوم چې به په پلِ صراط باندې تيريدونکي پټ کړي، د چا چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخ مبارک د نُور څومره حصه نصيب شي، د هغې مطابق به هغه همره زر په پلِ صراط باندې تير شي او د قيامت په ورځ به نُور مبارک د درودِ پاک د لوستلو مطابق ورکولے شي، څوک چې په دُنيا کښې څومره ډير درودِ پاک لولي، د هغهٔ به هغه همره زيات د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور نصيب کيږي او هغهٔ به هم دومره زر په پلِ صراط باندې تير شي. [1]

پُل سے اُتارو راہ گزر کو خبر نہ ہو | جبریل پر بچھائیں تو پر کو خبر نہ ہو
کانٹا مرے جگر سے غمِ روزگار کا | یُوں کھینچ لیجیے کہ جِگر کو خبر نہ ہو
فریاد اُمّتی جو کرے حالِ زار میں | ممکن نہیں کہ خیرِ بشر کو خبر نہ ہو (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. [3]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه پاک** د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ په اَدب به کښينم ❀ ښهٔ په توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، ېخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه کوم چې ډير لوئي وَلِيُّ اللّٰه تير شوے دے، هغوئي ته

---

1 … بستان الواعظین، مجلس فی ذکر المیزان و الصراط، صفحہ:84 بتصرف۔
2 … حدائقِ بخشش، صفحہ:130۔
3 … بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

**سید الطّائِفَه** (یعنې د وَلیانو سردار) هم وئیلے کیږي. هغوئي د سلسله عالیه قادریه یولسم [11] شیخِ طریقت دے، د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوولسم [17] شیخ دے. یعنې حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پیرانو د پیر حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ پیرانو کښې دے. د دې نه اندازه ولګوئ چې هغوئي به څومره اوچته هستي وي.

**تذکرةُ الاَولیا** کوم چې د خواجه فرید الدِّین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کتاب دے، پهٔ دې کښې لیکلےشوي دي: د حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله اخري وخت راغلو نو هغوئي پهٔ سجده پریوتلو او پهٔ ژړا شو. خلق پهٔ دې حالت باندې ډیر حیران شول، عرض یــې وکړو: عالي جاه! تاسو خو ډیر زیات عبادت ګزار یئ (تاسو روزانه 400 رکعته نفل ادا کول، 20 کاله داسې تیر شول چې چرته درنه تکبیرِ اُولیٰ هم قضا شوې نهٔ وه، هر نـمونځ به مو د تکبیرِ اُولیٰ د جَمعې سره ادا کولو، ټوله ټوله شپه به مو پهٔ **الله!** **الله** کولو تیروله، نو خلقو عرض وکړو: عالي جاه! تاسو خو ډیر زیات عبادت ګزار یئ، ټول ژوند مو پهٔ عبادت او ریاضت کښې تیر کړے دے) د دې باوجود اوس پهٔ اخري وخت کښې دومره ژاړئ، د دې څهٔ وجه ده؟

اوس د ولیانو د سردار حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ایمان تازه کوونکے، زړهٔ دردوونکے او د **الله پاک** د ویرې نه ډکوونکے جواب واورئ! اوئې فرمائیل: زهٔ د دې وخت نه زیات کله هم د ژړا **محتاج** نهٔ ووم، دا یــې چې ووئیل نو هغوئي د قرآنِ کریم پهٔ تلاوت کښې مصروف شو، لږ وخت پس یــې وفرمائیل: د دې قرآنِ کریم نه زیات څوک هم زما همدرد نهٔ نشته ، زهٔ دا وخت د خپل ټول عمر عبادت پهٔ هوا کښې زوړند وینم، کوم چې تیزه سیلۍ اخوا دیخوا ړقوي، ما ته معلومه نهٔ ده چې دا هوا به زما عبادتونه د **الله پاک** پهٔ حضور کښې حاضروي که لرې کوي به یــې، بل طرف ته ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام او پلِ صِراط دے او زهٔ د قاضِيِ عادِل (یعنې د **الله پاک**) طرف ته پهٔ توجه سره د حکم

انتظار کووم، معلومه نهٔ ده چې ما ته به جنَّت ته د تللو حکم راکړے کيږي که د دوزخ طرف ته به ديکه کولے شم. [1]

الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت خواجه جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د الله پاک نه ويرې ته وګورئ! خومره عظيمه وه، پهٔ اخري وخت کښې يې هم مونږ ته نصيحت وکړو چې اے خلقو! ❀ چرې هم پهٔ خپلو اعمالو باندې باور مهٔ کوئ ❀ خپلو عبادتونو ته مهٔ ګورئ ❀ الله پاک ډير بے نيازه دے ❀ بس هُم هر وخت ويريږئ...!! آؤ! آؤ! پلِ صِراط ستاسو مخې ته دے ❀ هٰغه خطرناکه لاره کومه چې د دوزخ د پاځه تيريږي ❀ آه! پهٔ دې پل باندې تيريدل ډير ګران دي ❀ معلومه نهٔ ده چې پهٔ دې به تيريدل او جنَّت ته تلل نصيب کيږي که د دوزخ ژورې کندې ته به غورځيدل او د الله پاک پهٔ عذاب کښې راګيريدل به وي، ځکه اے خلقو...!! هميشه د الله پاک نه ويريږئ او د هغهٔ د ويرې نه اوښکې توئيوئ...!!

| | |
|---|---|
| محبت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی! |
| مرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دم | ترے خوف سے یاخدا یاالٰہی! |
| ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھرتھر رہوں کانپتا یاالٰہی! (2) |

## شبِ قدر د فرښتو د نازليدو شپه ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف اووه ويشتمه شپه ده او د اکثرو علمائے کرامو پهٔ نزد اووه ويشتمه شپه شبِ قدر دے [3] ځکه مونږه اُميد کوو چې اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! نن شبِ قدر دے ❀ نن د بخښنې شپه ده ❀ د رحمت شپه ده ❀ نن هٰغه

---

[1]... تذکرة الاولياء، جلد:2، صفحه:30۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:105 ملتقطاً۔

[3]... فيضانِ رمضان، صفحه:199۔

شپه ده کومه چې د زرو میاشتو نه بهتره ده ❀ نن د سلامتیا شپه ده ❀ نن د فرښتو زمکې ته د راکوزیدو شپه ده. د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه روایت دے، سرکارِ عالي وقار، د مدینے والا تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چې کله شبِ قدر راځي نو د **اللّٰه پاک** په حکم باندې حضرت جبریل عَلَیۡہِ السَّلَام یوه شنه جنډه راخستې د فرښتو د لوئي فوځ سره زمکې ته نزول فرمائي او هغه شنه جنډا په کعبه شریفه باندې لګوي، د یو روایت مطابق د دغه فرښتو شمیره په مخ د زمکه د شګو نه هم زیات وي، دا ټولې سلام او رحمت راوړي او نازلیږي. **په حدیثِ پاک کښې دي**: د حضرت جبریل عَلَیۡہِ السَّلَام 100 وَزَري دي، په کومو کښې چې 2 وَزَري صرف په دې شپه پرانیزي، هغه وَزَري په مشرق او مغرب کښې خورې شي، بیا حضرت جبریل عَلَیۡہِ السَّلَام فرښتو ته حکم کوي چې نن شپه کوم مسلمان په نـمونځ یا ذِکرُ الله کښې مصروف دے د هغهٔ سره سلام او مصافحه وکړئ او د هغهٔ په دعاګانو باندې امین هم ووایئ! نو فرښتے د هغوئي په حکم باندې عمل کوي او تر سحره پورې دغه سلسله جاري وي.[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن د برکتونو والا شپه ده، **اللّٰه پاک** دې د ننۍ مبارکې شپې په برکت مونږه ټول بے حسابه اوبخښي. مونږ ته دې د پل صِراط نه نجات راعطا کړي ❀ **اللّٰه پاک** دې د ننۍ شپې په برکت مونږه په پلِ صِراط په حفاظت سره تیر کړي، چې په دې خطرناکه لاره باندې زمونږه ښپې اونه لړزیږي ❀ کاش چې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **رَبِّ سَلِّم** اواز کوي او مونږ په دې زړهٔ راښکونکي او اطمینان والا اواز په وجد کښې راشو او په کامیابۍ او کامرانۍ سره مو په پلِ صِراط باندې تیریدل نصیب شي،

مغفرت کا ہوں تجھ سے سُوالی | پھیرنا اپنے دَر سے نہ خالی
مجھ گنہگار کی اِلتجاء ہے | یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے

---

[1] ... شعب الایمان، باب فی الصیام، فصل فی لیلة القدر، جلد:3، صفحه:336، حدیث:3695۔

| | |
|---|---|
| آہ! رَنج و اَلَم نے ہے مارا | یااِلٰہی! مجھے دے سہارا |
| ایک غمگیں دِل کی صدا ہے | یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے[1] |

## د قيامت د ورځې ډېره خطرناکه مرحله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قيامت معامله ډېره وحشت ناکه او خطرناکه ده ❀ د قيامت د ورځې د حساب پهٔ انتظار کښې ودريدل هم يو قيامت دے ❀ د **الله پاک** پهٔ حضور کښې حاضري هم ډېره سخته معامله ده ❀ پهٔ ميزان باندې د اعمالو د تللو معامله هم ډېره سخته ده ❀ او پهٔ پلِ صِراط باندې تيريدل خو ډېر زيات سخت دي، کيدے شي چې د قيامت پهٔ معاملو کښې د ټولو نه خطرناکه مرحله هُم د پلِ صِراط ده. پهٔ دې کښې نوره سخته دا چې که څوک نيک دے او که ګنهګار، که پرهيزګاره دے او که بدکاره او بد کرداره، که څوک هر څنګه هم دے، هر يو ته به هُم پهٔ پلِ صِراط باندې تيريدل وي. **الله پاک** پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاِنۡ مِّنۡكُمۡ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ (پاره:16، سورهٔ مريم:71) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ستاسو نه هر يو پهٔ دوزخ باندې تيريدونکے دے. |

د دې آيت يوه معنیٰ دا ده چې پلِ صِراط کوم چې به په دوزخ باندې کيښودلے شي، هر يو ته پهٔ دې باندې تيريدل دي، آؤ! چې کوم مسلمان وي، هغهٔ به پهٔ دې باندې پهٔ سلامتيا سره تير شي او څوک چې غير مسلمه وي، هغهٔ به کټ شي او د دوزخ ژورې کندې ته به پريوځي.[2]

1...وسائلِ بخشش، ص137136۔

2...صراط الجنان، پاره:16، سورهٔ مريم، زيرِ آيت:71، جلد:6، صفحه:144143 ملخصاً۔

# صحابئ رسول پهٔ سلګو سلګو وژړل

یو ځل صحابئ رسول حضرت عبد اللّٰه بن رَوَاحَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ډېر وژړل، هغوئي ته چې يــې وکتل نو کور وداني محترمه يــې هم پهٔ ژړا شوه، خادم چې هغوئي ته وکتل نو هغهٔ هم پهٔ ژړا شو، باقي کور والؤ چې وليدلو نو هغوئي هم پهٔ ژړا شو، دا د ژړا حالت چې ختم شو، د اوښکو لړۍ لړې ودريدلې نو هغوئي پوښتنه وکړه: تاسو ولې ژاړئ؟ عرض يــې وکړو: چې تاسو مو پهٔ ژړا وليدلئ نو مونږ له هم ژړا راغله. اوئې فرمائيل: نن پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دا آيت مبارک نازل شو، پهٔ کوم کښې چې وفرمائيلے شول:

وَاِنۡ مِّنۡكُمۡ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ
(پاره:16، سورۂ مریم:71)

**ترجمۂ کنزُ العِرفان:** او ستاسو نه هر يو پهٔ دوزخ باندې تيريدونکے دے.

آه! پهٔ دې کښې دا خو ووئيلے شو چې ما ته پهٔ دوزخ باندې تيريدل دي خو دا اونه وئيلے شو چې زهٔ به پهٔ سلامتيا سره تير شم که به تير نشم.[1]

## د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم يو مبارک انداز

دا خو مونږه د يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ذِکرِ خير واوريدلو! **پهٔ روايتونو کښې دي:** عام طور د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم دا معمول وو چې پهٔ دوئي کښې به کله دوه صحابهٔ کرام د يو بَل سره ميلاؤيدل نو يو به بل ته وئيل: آيا تاسو ته دا آيت در رسيدلے دے چې هر ګس ته به پهٔ دوزخ باندې تيريدل وي؟ هغه صحابي به وئيل: آؤ جي! رارسيدلے دے. وړومبي صحابي به وئيل: آيا دا هم وئيلے شوي دي چې تاسو به پهٔ سلامتيا سره تير شئ او د دوزخ نه به ووځئ؟ هغه بل به وئيل: نهٔ. وړومبي صحابي به وئيل: بس بيا پهٔ تهوقو تهالو کښې څهٔ

[1] … صراط الجنان، پاره:16، سورۂ مریم، زیرِ آیت:71، جلد:6، صفحه:144143 ملخصاً۔

کېښودلے شوي دي. [1]

**الله! الله!** **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اندازه ولګوئ چې دا صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم دي، دا خو هُغه هستيانې دي د کومو په وسيله چې به زمونږه په شان د خلقو په پلِ صِراط اساني نصيب کيږي، آؤ جي! د روايتونو مطابق کوم خوش قِسمته چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم سره محبت کوونکے وي، د قيامت په ورځ باندې به جبرائيل امين عَلَيۡهِ السَّلَام د هغهٔ د پاره په پلِ صِراط باندې خپلې وَزَرې مبارکې غوړوي چې هغهٔ په اسانی سره په پلِ صِراط باندې تير شي. [2]

فضل ربّ سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا | دل سے جو شَیدا ہوا اَصحاب و اہل بیت کا [3]

هر صحابيِ نبي! جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي
څلور ياران د نبي! جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم جَنَّتي جَنَّتي
او عُمر فاروق هُم جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني جَنَّتي جَنَّتي
فاطِمه او علي جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم جَنَّتي جَنَّتي
والدين د نبي جَنَّتي جَنَّتي | هره زَوجهٔ نبي جَنَّتي جَنَّتي
او ابُو سُفيان هُم جَنَّتي جَنَّتي | دے مُعاوِيه هُم جَنَّتي جَنَّتي [4]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم د کومو په صدقه چې په پلِ صِراط باندې د نجات ميلاؤيدو طمع لرو، اندازه ولګوئ چې دوئي به پخپله د پلِ صِراط د ويرې نه څنګه ژړل، دومره په تکليف سره به يې ژړل چې ليدونکو له به هم ژړا ورتلله.

---

[1] … تخويف من النار، الباب السابع و العشرون...الخ، صفحه:245۔

[2] … مواهب اللدنيه مع شرح زرقاني، المقصد الخامس...الخ، جلد:8، صفحه:198۔

[3] … وسائلِ فردوس، صفحه:35۔

[4] … وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

کاش چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم پهٔ وسیله زمونږه هم د **الله پاک** نه ویره نصیب شي.

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھرتھر رہوں کانپتا یاالٰہی! ( 1 )

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## پلِ صِراطِ د تورې نه ډیر تیرهٔ دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! واقعي ده چې د پلِ صِراط معامله هم ډیره نازکه ده. د حضرت فضیل بن عیاض رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه منقول دي: د پلِ صِراط سفر 15 زره کاله مزل دے ❀ 5 زره کاله بره د ختَلو ❀ 5 زره کاله لاندې د راکوزیدلو ❀ او 5 زره کاله د برابریدلو. پلِ صِراط د ویښتنه نه ډیر نرے او د تورې نه ډیر تیرهٔ دے. [2]

پهٔ بهارِ شریعت کښې دي: صِراط یو پل دے کوم چې به د دوزخ پهٔ شا باندې کیښودلے شي، جنَّت ته د تللو هم دغه لاره ده، د ټولو نه مخکښې به پرې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تیریږي، بیا به نور انبیائے کرام او مرسلین عَلَیۡھِمُ السَّلَام، بیا به دا اُمَّت (یعنې مسلمانان) بیا به پرې د نورو (نبیانو) اُمَّتونه تیریږي. ټول خلق به د خپلو خپلو اعمالو مطابق پهٔ مختلف انداز سره تیریږي ❀ بعضې خو به داسې پهٔ تیزئ سره تیریږي لکه د بجلې د پړق،چې پړق وکړي او بیا ورکه شي ❀ بعضې به د تیزې سیلئ پهٔ شان ❀ څوک به داسې تیریږي له څنګه چې مرغئ الوځي ❀ بعضې داسې لکه څنګه چې آس زغَلي ❀ بعضې داسې لکه څنګه چې انسان منډه وهي ❀ تر دې پورې چې بعضې ګس به پهٔ شا باندې د راښکلو سره ❀ او څوک به د میږي پهٔ مَزَل ځي او د پلِ صِراط دواړو طرفونو ته به غټ غټ د کونټئ پهٔ شان غټ غټ سیخونه وي، د کوم ګس پهٔ باره کښې چې حکم کیږي، هغهٔ به دغه سیخونه راګیروي، بعضې خلق به زخمي شي خو نجات به

1…وسائلِ بخشش، صفحه:105۔

2…اَلۡبُدورُ السّافِرة، باب ما ورد فی الصراط، صفحه:334۔

حاصل کړي او بعضې به دوزخ ته غورځولے کيږي. (1)

راځئ چې په پلِ صِراط باندې په حفاظت سره د تيريدلو د پاره دُعا وکړو:

| | |
| --- | --- |
| يا الٰہی جب چلوں تاریک راہِ پُل صِراط | آفتابِ ہاشمی نورُالھُدیٰ کا ساتھ ہو |
| یا الٰہی جب سرِ شمشیر پر چلنا پڑے | ربِّ سلّم کہنے والے غمزِدا کا ساتھ ہو |
| یاالٰہی! نامۂ اعمال جب کھلنے لگیں | عیب پوشِ خلق ستارِ خطا کا ساتھ ہو (2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په خوب ليدلو يې ويښته سپين شول

**اِمام اِبنِ اَبِي دُنيا** ليکلي دي چې: يو ځوان کَس وو، د هغهٔ د سَر او د ګيرې ټول ويښته تور وو، يوه شپه چې هغهٔ اوده شو نو خوب يې وليدلو چې د حشر ميدان دے، خلق راجمع کړے شوي دي، څهٔ ګوري چې د وور غټ شان نهر دے، د هغې د پاسه پل کيښودلے شوے دے، خلق په هغې باندې تيريږي، اواز ورکړے کيږي: اے فلانکيه! تهٔ تير شهٔ...!! د کوم کَس نوم چې واخستلے شي نو هغهٔ په پلِ صِراط باندې تيريږي، بعضې خو په تيريدلو کښې کاميابيږي او بعضې دوزخ ته پريوځي او هلاکيږي. هُغه کَس وائي: په دې کښې ما ته زما په نوم اواز وکړے شو، زهٔ پلِ صِراط ته وختلم، دا د تورې نه ډير تيرهٔ وو، زهٔ چې په دې باندې تيريدم نو يو خوا بل خوا خوځيدم. راوي بيانوي چې کله دا کَس اوده وو نو د دهٔ ټول ويښته تور وو خو چې کله راپاڅيدو نو د پل صِراط د ويرې له وجهې د هغهٔ د سَر او د ګيرې ټول ويښته سپين شوي وو. (3)

[1]... بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:148147، حصه:1۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:133 بتقدم و تأخر۔

[3]... موسوعه ابن ابي دنيا، كتاب المنامات، صفحه:142، رقم:295۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د پلِ صِراط د وحشت اندازه ولګوئ چې د قيامت د دې خطرناکې مرحلې په خوب کښې د ليدلو دا اَثر دے نو سوچ وکړئ چې کله د قيامت په ورځ په حقيقت کښې په دې باندې تيريدل وي نو بيا به زمونږه څۀ حال وي...؟ آه! پلِ صِراط ډير خطرناک دے خو افسوس چې مونږه بيا هم د غفلت نه نۀ رابيداريږو.

| | |
|---|---|
| دل ہائے! گناہوں سے! بیزار نہیں ہوتا | مغلوب شہا! نفسِ بدکار نہیں ہوتا |
| یہ سانس کی مالا اب ، بس ٹوٹنے والی ہے | غفلت سے مگر دل کیوں بیدار نہیں ہوتا |
| گو لاکھ کروں کوشش ، اصلاح نہیں ہوتی | پاکیزہ گناہوں سے کردار نہیں ہوتا |
| اے رب کے حبیب آؤ! اے میرے طبیب آؤ! | اچھا یہ گناہوں کا بیمار نہیں ہوتا (1) |

## بيا ستا دا خندا د څۀ ده ؟

کاش چې زمونږه هم د قبر او حشر، د دوزخ او د پلِ صِراط په صحيح معنو کښې ويره نصيب شي، ګنې نو حالات خو هُم داسې دي، د قبر او د حشر دومره غټې خطرې زمونږه مخې ته دي، د دې باوجود مونږه د فضولياتو نه نۀ وزګاريږو ❀ د نـمونځونو پابندي ده کومه چې رانه نۀ کيږي ❀ خوره، څښه او مزې کولوواﻻ خبرې مونږه کوو ❀ بس سيلونه او مزې دي ❀ د دوستانو سره ناستې پاستې دي ❀ په موبائل فون باندې معلومه نۀ ده چې څنګه څنګه مصروفيات مونږه ساتلي دي ❀ ګپونه لګوو او خوشحاليږو ❀ د دوستانو سره کښيناستل او په يو بَل پورې توقې کول، په زوره زوره خندل، په کړس خندا زمونږه د عادتونو حصه ده. آه! زمونږه حالات داسې د بے فِکرۍ واﻻ دي خو د قبر او د حشر او د پلِ صِراط خطرې زمونږه مخې ته دي.

حضرت حسن بصري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ يو ګس په خندا وليدلو. اوئې فرمائيل: اے ځوانه ! آيا

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:163 بتقدم و تاخر۔

تهٔ پهٔ پلِ صِراط تیر شوے یې؟ عرض یې وکړو: نه. بیا یې وفرمائیل: آیا تا ته دا معلومه ده چې تهٔ به جنّت ته ځې که دوزخ ته؟ عرض یې وکړو: نه. اوئې فرمائیل: فَمَا هٰذَا الضِّحْکُ؟ یعنې بیا ستا دا خندا د څهٔ ده؟ (یعنې چې داسې مشکلات ستا مخې ته دي او تا ته د خپل نجات عِلم هم نشته نو بیا پهٔ کومه خوشحالۍ خندا کوې؟) د دې نه پس هغهٔ چرې هم چا پهٔ خندا باندې اونه لیدلو. [1]

کاش چې زمونږه هم داسې توفیق نصیب شي، کاش چې دا نصیحتونه زمونږه پهٔ زړهٔ باندې هم اَثَر وکړي او مونږه د قبر او د حشر او پهٔ پلِ صِراط باندې پهٔ تیریدلو کښې مصروفه شو. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د پلِ صِراط 7 مرحلې

**پهٔ روایتو کښې دي:** د پلِ صِراط 7 مرحلې دي، پهٔ دې کښې به پهٔ هره مرحله باندې انسان ودرولے شي او مختلف سوالونه به ترې کیږي. پهٔ توجه سره یې واورئ! او غور پرې هم وکړئ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مونږ باندې څومره احسانونه دي چې کومې معاملې پهٔ مونږ راتلونکې دي د هغې نه مخکښې یې مونږه خبر کړو. چې مونږه د اوس نه د دې تیاري وکړو، د پلِ صِراط د 7 مرحلو د 7 سوالونو جوابونه هم د اوس نه تیار کړئ او د نجات حقدار جوړ شئ. د هرې مرحلې سوالونه څهٔ دي؟ واورئ!

### (1): پهٔ وړومبۍ مرحله کښې به د نمونځ پوښتنه کیږي

چې کله انسان د وړومبۍ مرحلې نه تیر شي نو حکم به وشي:

| | |
|---|---|
| وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْـُٔوْلُوْنَ ﴿۲۴﴾ (پاره:23، سورهٔ صفت:24) | **ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** او هغوئې اودروئ بے شکه د هغوئې نه به تپوس کیږي. |

[1]… تخويف من النار، الباب السابع و العشرون…الخ، صفحه:245۔

دلته به د نـمونځ په باره کښې پوښتنه کولے شي، بس چې د چا نـمونځونه پوره وي، د پلِ صِراط نه به نجات حاصل کړي، ګني نو په هلاکت کښې به پريوځي. [1]

اوس چې مونږه غور وکړو چې آيا مونږه نـمونځونه په پابندئ سره ادا کوو...؟ آه! افسوس چې نن سبا په نـمونځونو کښې ډيره سستي کولے شي، اکثر خلق خو هغه دي کوم چې هډو نـمونځونه نۀ کوي، کوم يـې چې کوي، په هغوئي کښې هم يوه شميره داسې ده کوم چې دوه کوي، کله 4، او کله نا کله 5 هم وکړي او څوک چې پينځه وخته پاخه نـمونځ ګزاره دي، په هغوئي کښې هم يوه شميره داسې ده کومو له چې په صحيح طريقه نـمونځ کول نۀ ورځي.

## نـمونځونه هُم پينځه فرض دي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نـمونځونه 2 يا 4 نۀ بلکې پينځه فرض دي، کوم خلق چې 2 يا 4 کوي او زړۀ له تسلي ورکوي چې ما نن دومره نـمونځونه کړي دي، هغوئي ته د خوشحاليدو په ځائے ويريدل پکار دي چې دوه يـې کړي دي نو درې يـې قضا کړي هم دي. اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: چا چې قصداً عمداً د يو وخت (نـمونځ) پريښودو، په زرګونو کاله په دوزخ کښې د اوسيدو حقدار شو، تر څو پورې چې توبه نکړي او د دې قضا را نه وړي. [2]

## د نـمونځ نۀ کولو عذاب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نـمونځ نۀ کول هُم ډيره سخته ګناه ده. **اللّٰه پاک** په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

---

1... بستان الواعظين، مجلس فى ذكر الميزان و الصراط، صفحه:85۔

2... فتاوىٰ رضويه، جلد:9، صفحه:158۔

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾

(پاره:16، سورۀمريم:59)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د هغوئي نه پس هُغه نالائقه خلق د هغوئي پهٔ ځائے راغلل کومو چې لمونځونه ضائع کړل او د خپلو خواهشاتو تابعداري يې وکړه نو نزدې ده چې هغوئي به د دوزخ خوفناکې کندې غیٓ سره مخ کيږي.

پهٔ دې آيت مبارک کښې د غَيّ ذِکر دے، حضرت علّامه مولانا مفتي محمد امجد علي اَعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: غَيّ پهٔ دوزخ کښې يوه دَره ده د کومې ګرمي او ژور والے چې د ټولو نه زيات دے، پهٔ دې کښې يو کوهے دے د کوم نوم چې هَب هَب دے، چې کله د دوزخ وور مړ کيدو نه نزدې کيږي نو الله پاک دغه کوهے برسيره کوي د کومې سره چې هغه بيا (د مخکښې پهٔ شان) لَمبه شي. [1]

## د دُنيا کوهے

اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د دې آيت پهٔ ضمن کښې زمونږ د پوهه کولو د پاره فرمائي: اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ دې خطرناک کوهي باندې د ځان پوهه کولو د پاره د دُنيا د يو کوهي پهٔ غاړه باندې ودريږئ او د هغې پهٔ ژور والي باندې لږ نظر واچوئ او سوچ وکړئ چې که د دُنيا هُم پهٔ دې کوهي کښې قيد کړے شو نو آيا دا سزا به برداشت کړے شو؟ که نهٔ او يقيناً چې نهٔ نو بيا به د دوزخ د خطرناک کوهي عذاب څنګه برداشت کړے شو!

ہو گی دُنیا خراب، آخرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
بے نمازی جہنّم کا حق دار ہے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
قبر میں سانپ بچھو لپٹ جائیں گے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز

[1]... بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:434، حصه:3۔

| | |
|---|---|
| سہہ سکو گے نہ دوزخ کا ہرگز عذاب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| دیکھو! اللہ ناراض ہو جائے گا | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| یاخُدا! تجھ سے عطار کی ہے دُعا | مصطفٰے کی پڑھے پیاری اُمّت نماز |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بې نـمانځه درې شامتونه

منقول دي: د قيامت په ورځ به هُغه (يعني د نـمونځ په معامله کښې سستی کولو والا) په داسې حال کښې راځي چې د هغهٔ په مخ باندې به درې کرښې ليکلے شوې وي: **(1)**: اے د **الله** پاک حق بربادولو والا! **(2)**: اے د **الله** پاک د غضب سره خاص شويه (يعني دا بنده د **الله** پاک د غضب حقدار دے)! **(3)**: لکه څنګه چې په دُنيا کښې تا د **الله پاک** حق ضائع کړو دغه شان نن ته هم د **الله پاک** د رحمت نه مايوسه شهٔ. (1)

## د معراج په شپه يــې عذاب وليدلو

اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه د داسې خلقو خوا له تشريف يوړلو د کومو سرونه چې به په کاڼو چقيدل، کله به چې هم هغهٔ وچقولے شول هغهٔ به د مخکښې په شان صحيح شول او دا سلسله به هم دغه شان روانه وه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: اے جبرائيله! دا څوک دي؟ عرض يــې وکړو: دا هُغه خلق دي د کومو سرونه چې به په نـمونځ کولو درَنيدل (يعني فرض نـمونځونه به يــې) پريښودل. (2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که سر معمولي شان زخمي شي نو بنده درديږي نو مَعَاذَالله! د نـمونځ قضا کولو په شکل کښې که چرې د هغهٔ نازک سر فرښتو چقول شروع

---

1 … الکبائر للذهبی، الکبیرۃ الرابعۃ فی ترک الصلاۃ، صفحہ:17۔

2 … مسند بزار، جلد:17، صفحہ:5، حدیث:9518۔

کړو نو د هغهٔ به څهٔ کيږي! **کاش**! **کاش**! چې ټول مسلمانان پاخه نـمونځ ګزاره جوړ شي.

توفيق دے الٰہی! مجھے تو نماز کی | صدقے میں مصطفٰے کے بنے خُو نماز کی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د پوخ نـمونځ ګزاره د پاره 5 انعامونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د ويريدو مقام دے، مونږ له پکار دي چې پهٔ قبر او حشر کښې د کاميابۍ موندلو، پهٔ پلِ صِراط باندې د کاميابۍ سره د تيريدلو د پاره پينځه واړه نـمونځونه پهٔ پابندۍ سره د جَمعې سره د ادا کولو عادت جوړ کړو. پهٔ حديثِ پاک کښې دي: رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د نـمونځ پابندي کوي، **الله پاک** به هغهٔ له د 5 خبرو سره عزت ورکوي: **(1)**: د هغهٔ غريبي به ختمه کړې **(2)**: د قبر عذاب به ترينه لرې کړې **(3)**: اعمال نامه به هغهٔ له پهٔ ښي لاس کښې ورکوي **(4)**: هغهٔ به پهٔ پلِ صِراط باندې د بجلۍ د پړق پهٔ شان تيريږي او **(5)**: جنَّت ته به بغير د حساب نه داخليږي. [1]

دیدارِ حق دکھائے گی اے بھائیو! نماز! | جنّت تمہیں دِلائے گی اے بھائیو! نماز!
دربارِ مصطفٰی میں تمہیں لے کے جائے گی | خالق سے بخشوائے گی اے بھائیو! نماز!
جنّت میں نرم نرم بچھونوں کے تخت پر | آرام سے سُلائے گی اے بھائیو! نماز!
فاقے سے مُفلسی سے جہنّم کی آگ سے | سب سے تمہیں بچائے گی اے بھائیو نماز!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ... الکبائر للذھبی، الکبیرۃ الرابعۃ فی ترک الصلاۃ، صفحہ:17۔

## (2): پهٔ دویمه مرحله باندې به د امانت پوښتنه کیږي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا د پلِ صِراط د وړومبۍ مرحلې بیان وو، که بنده نـمونځ ګزاره وو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د وړومبۍ مرحلې نه به پهٔ اسانۍ سره تیر شي، بیا به پهٔ دویمه مرحله ودرولے شي، دلته به د امانت پهٔ باره کښې پوښتنه کولے شي، څوک چې امانت دار وي، هغهٔ به نجات حاصل کړي، ګنې دوزخ ته به پریوځي او هلاک به شي. (1)

معلومه شوه چې پهٔ پلِ صِراط باندې د تیریدلو د پاره امانت دار کیدل هم ډیر ضروري دي. افسوس چې نن سبا پهٔ دې معامله کښې هم کردار ورځ په ورځ خرابیږي، د یو څو منټو د پاره د چا سره پهٔ امانت کیښودلو سل کرته سوچ کول وي، لالچ دومره زیات شوے دے چې خلق د یو څو روپو د پاره د خیانت ګناهونه ګټي.

## خیانت کبیره ګناه ده

**یاد ساتئ چې پهٔ هر مسلمان باندې امانت داري واجب ده، او خیانت کول** (یعنې چا درسره امانت کیښودو نو د هغهٔ د اجازت نهٔ بغیر پهٔ امانت کښې تصرُّف کول، هغه پخپله استعمالول یا بل چا له ورکول یا د هغې پهٔ پوره توګه حفاظت نهٔ کول وغیره) **حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے.** (2) **اللّٰه پاک** پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ وَ تَخُوْنُوْۤا اَمٰنٰتِكُمْ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ۝۲۷ (پاره:9، سورۂ انفال:27) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! اللّٰه او رسول سره خیانت مهٔ کوئ او مهٔ قصداً پهٔ خپلو امانتونو کښې خیانت کوئ. |

---

1 ... بستان الواعظین، مجلس فی ذکر المیزان و الصراط، صفحه:85۔

2 ... الحدیقة الندیة، الخلق الثانی والعشرون...الخ، جلد:3، صفحه:131۔

## د خيانت يو څو قِسمونه

حضرت علّامه عبدُ الـمصطفٰے اعظمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: لکه څنګه چې پۀ روپو، پيسو او د مال او سامان پۀ امانتونو کښې خيانت حرام دے هم دغه شان پۀ خبرو، کارونو او د عهدو [يعني ښوکو] پۀ امانتونو کښې هم خيانت حرام دے. مثلاً ❁ چا تاسو ته د خپل راز خبره وکړه او تاسو ته يې دا ووئيل چې دا خبره امانت دے چا ته يې مۀ کوه او هٰغه خبره تاسو چا ته وکړه نو دا پۀ امانت کښې خيانت شو ❁ دغه شان که چا تاسو مزدور وساتلې او څۀ کار يې درته حواله کړو خو تاسو قصداً هٰغه کار خراب کړو، يا مو کم کار وکړو نو تاسو پۀ امانت کښې خيانت وکړو ❁ دغه شان د حاڪِم دا ذمه واري ده چې هغۀ د خپلې رعايې نګراني کوي او د هغوئي نه ځان خبروي او عدل او انصاف قائم ساتي. که هغۀ د خپلې ښوکې ذمه وارئ پوره نڪړې نو دا پۀ امانت کښې خيانت شو ❁ دغه شان د ښځې چې ښځه او خاوند څۀ وائي يا کوي پۀ دې کښې ښځه او خاوند د يو بَل امانت دار دي. که پۀ دې دواړو کښې چا هٰغه خبرې نورو خلقو ته وکړې نو دا هم پۀ امانت کښې خيانت شو. غرض دا چې ❁ مزدور ❁ کاريګر ❁ نوکر وغيره کوم کار چې دې خلقو ته حواله کړے شوے دے هغوئي د دغه کارونو امانت دار دي. که دا خلق پۀ خپل کار او ډيوټۍ پوره کولو کښې کمے يا بے خيالي وکړي نو پۀ امانت کښې به خيانت کوي. **ياد ساتئ چې پۀ هر قِسمه امانتونو کښې خيانت حرام دے او هر خيانت دوزخ ته بوتلونڪے کار دے. هر مسلمان ته د هر قِسمه خيانتونو نه بچ کيدل د ايمان د سلامتيا او د دوزخ نه د نجات حاصلولو د پاره ډير ضروري دي.** (1)

## خيانت نيکۍ خوري

**پۀ حديثِ پاک کښې دي:** حَسَد او خيانت نيکۍ داسې خوري لکه څنګه چې وور لرګي

[1] … جهنم کے خطرات، صفحه:6867۔

خوري [1] ﷺ پۀ يو حديث شريف کښې فرمائي: د قيامت پۀ ورځ باندې به د هر خيانت کوونکي د پاره يوه جنډا لګولے شي پۀ کومه باندې چې به هغۀ پيژندلے شي. [2]

## د خيانت ډير سخت عذاب

**پۀ روايتونو کښې دي**: څوک چې پۀ دُنيا کښې خيانت کوي، د قيامت پۀ ورځ باندې به هغۀ ته وئيلے شي: د خپل ورور امانت واپس کړه! هغۀ به عرض کوي: مولیٰ! هغۀ خو ما پۀ دُنيا کښې پريښودے دے، اوس يې د چرته نه راوړم...؟ نو د هغه امانت پۀ مثل به څۀ څيز د دوزخ پۀ ژوره کنده کښې ظاهر کړے شي، هغه خيانت کوونکي ته به وئيلے شي: لاړ شه! د دوزخ د ژورې کندې نه يې راوچت کړه! هغۀ به د دوزخ ژورې کندې ته کوز شي، امانت به راوچت کړي، دا به د دُنيا د غرونو نه زيات وزن دار وي، بنده به هغه پۀ اوګو باندې راوچت کړي او بره خَتل به شروع کړي، خيژي به، خيژي به، چې کله د دوزخ غاړې ته راورسي نو امانت به بيا د دوزخ ژورې کندې ته پريوځي، دا به بيا ښکته ځي، امانت به راوچتوي، بره به راخيژي، چې کله غاړې ته رانزدې کيږي نو امانت به بيا غورځيږي، چې کله **الله پاک** وغواړي، تر هغه وخته پورې به هم دغه معامله کيږي. [3]

**الله! الله!** **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** غور وکړئ چې څومره سخت عذاب دے...!! مونږ له پکار دي چې د دې نه عبرت حاصل کړو، د هر قِسمه امانت حفاظت وکړو. د دې پۀ برکت به مونږه اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د پلِ صِراط پۀ دويمه مرحله تيريدلو کښې هم کامياب شو.

---

[1] ... کنز العمال، جز:3، جلد:2، صفحه:186، حديث:7441۔

[2] ... بخاری، کتاب الحیل، باب اذا غضب جاریة...الخ، صفحه:1695، حديث:6966۔

[3] ... بستان الواعظین، مجلس فی ذکر المیزان و الصراط، صفحه:86۔

## (3): پهٔ دريمه مرحله کښې به د صِلَه رحمۍ پوښتنه کيږي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د پلِ صِراط پهٔ دريمه مرحله باندې به بيا ودرولے شي، دلته به د صِله رحمۍ (يعنې د رشتې د پاللو او د خپلوانو سره د نيک سلوک کولو) پهٔ باره کښې پوښتنه کيږي، که انسان صِله رحمۍ والا شو نو نجات به بياموي، ګنې دوزخ ته به پريوځي او هلاک به شي. [1]

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** امانت او صِلهٔ رحمي به وليږلے شي نو هغه به د پلِ صِراط ښي او ګڅ اړخ ته ودريږي. [2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د پلِ صِراط دريمه پوښتنه ده. آه! افسوس چې نن سبا خو د صِله رحمۍ کيدے شي چې صرف نوم پاتې شوے دے، عام طور خلق پهٔ بدل هر څهٔ کوي، فلانکي زما سره ښيګړه کړې وه، ځکه زهٔ هم د هغهٔ سره ښيګړه کووم، فلانکي زما سره بد کړي وو، ځکه به د هغهٔ سره زهٔ هم بد کووم، ښيګړه به ورسره نهٔ کووم. دا ډير غلط انداز دے. مونږ ته د صِله رحمۍ حکم راکړے شوے دے، هر يو عزيز او رشته دار د کوم سره چې مونږ ته د رشتې پاللو او د نيک سلوک کولو شريعت حکم راکړے دے، د هغوئي سره نيک سلوک کول ضروري دي او تعلق پريښودل کبيره ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. **الله پاک** پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَ الْاَرْحَامَ ؕ (پاره:4، سورهٔ نساء:1) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د الله نه وه يَريږئ د چا پهٔ نُوم چې د يو بل نه غوښتنه کوئ او د خپلوۍ (ماتولو نه ځان ساتئ.) |

[1]... بستان الواعظين، مجلس فی ذکر الميزان والصراط، صفحه:87۔

[2]... مسلم، کتاب الايمان، باب ادنی اہل الجنة منزلة فيها، صفحه:98، حديث:195۔

پۀ **تفسيرِ مظهري** کښې دي: يعنې تاسو د قطع رحمۍ (يعنې د خپلوانو سره د تعلق پرېښودو) نه بچ اوسئ. [1]

## تعلق پرېښودونکے د جنَّت نه محرومه

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** رشته پرې کوونکے به جنَّت ته نۀ ځي. [2]

## د رحمت نه د محرومتيا يو سبب

حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ يو ځل د رسولِ عربي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم احاديث مبارک بيانول، پۀ دغه وخت يې وفرمائيل: هر خپلولۍ ماتونکے دې زمونږه د محفل نه پاڅي. يو ځوان پاځيدو او د خپلې [د پلار د طرف نه د] ترور کره لاړو د کومې چې د هغۀ سره د ډيرو کلونو نه زړه جګړه وه، چې کله دواړه د يو بل نه راضي شول نو هٰغه ځوان ته ترور ووئيل: تۀ لاړ شۀ او د دې د سبب پوښتنه وکړه چې اخر داسې ولې وشول؟ (يعنې چې د ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اعلان څۀ حکمت دے؟) ځوان چې کله حاضر شو او پوښتنه يې وکړه نو حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفرمائيل چې ما د دواړو جهانو د سلطان، سرورِ ذيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا اوريدلي دي: **پۀ کوم قوم کښې چې خپلوۍ ماتوونکے وي، پۀ هٰغه قوم باندې د الله رحمت نۀ نازليږي.** [3]

څوک چې پۀ وړه وړه خبره باندې د خپلو خوئيندو، لوڼو، ترورريانو، ماماګانو، تروڼو، وريرونو، خوريونو وغيره سره تعلق پريږدي، د هٰغه خلقو د پاره پۀ دې حديثِ پاک کښې ډير عبرت دے. پۀ دې کښې دا غور هم وکړئ چې مخکښيني خلق به د **الله پاک** نه څومره

---

[1]… مظهری، پاره:4، سورۂ نساء، زیر آیت:1، جلد:2، صفحه:4۔
[2]… بخاری، کتاب الادب، باب اثم القاطع، صفحه:1495، حدیث:5984۔
3… الزواجر، جلد:2، صفحه:137136۔

ویریدل! خوش قِسمته ځوان د **اللّٰه پاک** د ویرې په وجه فوراً د خپلې ترور خوا له لاړو او روغه یې وکړله. تهولو له پکار دي چې غور وکړي چې په خاندان کښې یې د چا چا سره ورانه ده چې معلومه شي نو که بیا څه شَرعي عذر نۀ وي نو فوراً دې د خفه شوو خپلوانو سره روغه او صفائي وکړي. که په سَر ښکته کولو کیږي نو بې شکه د **اللّٰه پاک** د رضا د پاره دې ښکته شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! سر بلندي به بیاموي. **د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ الله یعنې څوک چې د **اللّٰه پاک** د پاره عاجزي کوي **اللّٰه پاک** هغۀ ته اوچتوالے ورعطا کوي. [1]

## د صِله رحمۍ 10 فائدې

حضرت فقیه ابو لیث سمرقندي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د صِلې رحمۍ کولو 10 فائدې دي: **(1)**: د اللّٰه پاک رضا پرې حاصلیږي **(2)**: د خلقو د خوشحالۍ سبب دے **(3)**: فرښتے پرې خوشحالیږي **(4)**: مسلمانان د هغه کَس تعریف کوي **(5)**: شیطان ته د هغۀ د طرف نه غم میلاؤیږي **(6)**: عمر پرې زیاتیږي **(7)**: په رزق کښې برکت راځي **(8)**: وفات شوي مسلمانان پلار نیکونه ترې خوشحالیږي **(9)**: په خپل مینځ کښې محبت زیاتیږي **(10)**: د وفات نه پس د هغۀ په ثواب کښې اضافه کیږي، ځکه چې خلق د هغۀ په باره کښې د خیر دعاګانې کوي. [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (4): په څلورمه مرحله باندې به د مور پلار په باره کښې پوښتنه کیږي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د پلِ صِراط په څلورمه مرحله باندې به بیا ودرولے شي او څلورمه پوښتنه به کیږي: آیا تا د مور پلار سره نیک سلوک وکړو؟ که کړے یې

1...معجم اوسط، جلد:6، صفحه:145، حدیث:8307۔

2...تَنبیهُ الغافِلین، باب صلة الرحم، صفحه:74۔

وي نو بنده به نجات بیاموي، کنې دوزخ ته به پریوځي او هلاک به شي. [1]

د دې نه معلومه شوه چې پهٔ پلِ صِراط باندې د تیریدلو او جنَّت ته د رسیدو د پاره د مور پلار سره نیک سلوک کول هم ډیر ضروري دي، کنې نو پهٔ پلِ صراط باندې د انښتو او دوزخ ته د پریوتو حقدار جوړیدے شو.

## د مور پلار ادب لازمي دے

څکه مونږ له پکار دي چې د مور پلار سره نیک سلوک وکړو، د هغوئي ښه پوره خدمت وکړو، هغوئي له غم تکلیف بالکل نهٔ ورکوو. **اللّٰه پاک** پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ قَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًاؕ (پاره:15، سورۂ بنی اسرائیل:23) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ستاسو رَب حکم فرمائيلے چې د هغهٔ نه سِوا د هیڅ چا عبادت مهٔ کوئ او مور پلار سره ښه سلوک کوئ. |

## د مور پلار د ادب پهٔ باره کښې احادیث مبارک

**پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** د **اللّٰه پاک** رضا د مور پلار پهٔ رضا کښې ده او د **اللّٰه پاک** ناراضګي د مور پلار پهٔ ناراضګۍ کښې ده. ✿ پهٔ یو حدیث شریف کښې دي: درې کسان به جنَّت ته نهٔ ځي **(1)**: د مور پلار نافرمانه **(2)**: دووس (یعني پهٔ کور والؤ باندې غیرت نهٔ کوونکے) **(3)**: د نارینؤ انداز اختیارونکې زنانه. [2]

## د ظالمانو والدینو فرمانبرداري هم لازمي ده

اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چې پهٔ داسې حال کښې سحر

1... بستان الواعظین، مجلس فی ذکر المیزان و الصراط، صفحه:87۔
2... الترغیب و الترہیب، باب اللباس و الزینة، الترہیب من تشبیه الرجال...الخ، صفحه:681، حدیث:7۔

کړو چې د خپل مور پلار فرمانبردار دے، د هغۀ د پاره هُم دسحر نه د جنَّت دوه دروازې پرانستے شي او که پۀ مور پلار کښې يو وي نو يوه دروازه پرانستے کيږي. او چا چې پۀ داسې حال کښې ماښام کړو چې د مور پلار پۀ باره کښې د **اللّٰه پاک** نافرماني کوي د هغۀ د پاره هُم د سحر نه د دوزخ دوه دروازې پرانستے شي او (پۀ مور پلار کښې که) يو وي نو يوه دروازه برسيره کيږي. يو کَس عرض وکړو: اګر که مور پلار پۀ هغۀ باندې ظُلم کوي. اوئې فرمائيل: **اګر که ظلم کوي، اګر که ظلم کوي، اګر که ظلم کوي.** [1]

دل دُکھانا چھوڑدیں ماں باپ کا | ورنہ اس میں ہے خسارہ آپ کا

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مور پلار خو مور پلار وي، د دوئي پۀ مونږ باندې ډير احسانونه دي، هُم د دوئي پۀ وجه مونږه دُنيا ته راغلو، نن چې مونږه څۀ هم يُو، هم د دوئي پۀ وجه يُو، ځکه پۀ ځان باندې دا لازم کړئ! چې هُم د دوئي سره به نيک سلوک کول کوو، د دوئي د طرف نه که پۀ ظاهره بد هم پۀ نظر راځي، بيا هم د دوئي سره ښيګړه کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې برکتونه به نصيب کيږي.

## (5): پۀ پينځمه مرحله باندې به د ژبې پۀ باره کښې پوښتنه کيږي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د پلِ صِراط پۀ پينځمه مرحله باندې به پينځمه پوښتنه د ژبې پۀ باره کښې کيږي يعنې پوښتنه به کيږي چې تا خپله ژبه د غيبت، چغلۍ وغيره ګناهونو نه بچ کړې وه که نه ؟ که ژبه يــې د دغه ګناهونو نه بچ کړې وي نو انسان به نجات بيامومي، ګنې هلاک به شي. **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** کوم کَس چې د يومسلمان په باره کښې څۀ خبره وکړي، د کومې مقصد چې پۀ هغۀ عيب لګول وي نو **اللّٰه پاک** به هغۀ پۀ پلِ صِراط باندې ودروي چې تر څو پورې د هغه څيز نه اونه ووځي کوم چې هغۀ وئيلي دي (يعنې چې تر څو پورې د هغې سزا اونه خوري يا يــې د متعلقه کَس نه معاف

1… شعب الایمان، باب بر الوالدین، فصل فی حفظ حق الوالدین…الخ، جلد:6، صفحہ:206، حدیث:7916۔

نکړي نو تر هغه وخته پورې به په پلِ صِراط باندې نهٔ تیریږي). [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ❀ غیبت ❀ چغلي ❀ بُهتان (یعني الزامونه لګول) ❀ نور خلق په غلطو نومونو رابلل ❀ د چا په رنګ ❀ قد وغیره پسې ټوقې کول، ډیر بد عمل، ګناه او حرام او دوزخ ته بوتلونکې کارونه دي. مونږ له پکار دي چې خپله خُله قابو کړو، د وئیلو خبرې کوو، ګنې نو خاموش پاتې کیږو، خاص طور د ګناهونو نه ډکې خبرې خو بالکل په خپله ژبه نهٔ راولو.

## د غیبت تباهي

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپل کتاب **غیبت کی تباه کاریاں** کښې د احادیثو او روایاتو په رڼا کښې لیکلي دي چې: غیبت ایمان تباه کوي ❀ غیبت د خرابې خاتمې سبب دے ❀ په کثرت سره د غیبت کوونکي دُعا نهٔ قبلیږي ❀ د غیبت سره د نـمونځ او روژې نورانیت ځي ❀ د غیبت سره نیکۍ بربادیږي ❀ غیبت نیکۍ سوزوي ❀ غیبت کولو والا که توبه هم کړي نو بیا به هم د ټولو نه په اخره کښې جنَّت ته داخلیږي، غرض دا چې غیبت کبیره ګناه، قطعي حرامه او دوزخ ته بوتلونکے کار دے ❀ غیبت د زنا نه هم ډیر سخت دے ❀ د مسلمان غیبت کوونکے د سود نه هم په لویه ګناه کښې راګیر دے ❀ غیبت که چرې سمندر ته وغورځولے شي نو ټول سمندر به بدبو دار شي ❀ په غیبت کوونکي به په دوزخ کښې مردار خوراک خوړل کیږي ❀ غیبت د مړ وررور د غوښې خوړلو په شان دے ❀ غیبت کولو والا به د قبر په عذاب کښې راګیریږي! ❀ غیب کوونکي به د اوسپني په نوکانو خپل مخ او سینه بیا بیا شوکوي ❀ غیبت کوونکے به د قیامت په ورځ د سپي په شکل راپاڅي ❀ غیبت کوونکے به د دوزخ شادو [یعني بیزو] وي ❀ په غیبت کوونکي به په دوزخ کښې

1...الزہد لابن مبارک، باب ماجاء فی الشح، صفحہ:219، حدیث:686۔

خپله غوښه خوړل کيږي ❀ غيبت کوونکے به د دوزخ د خوټکيدلو اوبو او د وور ترمينځه مرګ غواړي او منډې به وهي او د دۀ نه به دوزخيان هم بيزاره وي ❀ غيبت کوونکے به د ټولو نه وړومبے دوزخ ته ځي. (1)

بخش دے میری ہر اِک خطا یاخُدا! | فضل سے نیک بندہ بنا یاخُدا!
تُو بنا نیک نیکوں کے صدقے مجھے | اور پابندِ سُنّت بنا یاخُدا!
غیبتوں، چغلیوں، عیب دریوں سے اور | جھوٹ سے بھی مجھے تُو بچا یاخُدا! (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (6): پۀ شپږمه مرحله باندې به د ګاؤنډيانو پۀ باره کښې پوښتنه کيږي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** چې کله انسان د پلِ صِراط د پينځوو مرحلو نه تير شي نو بيا به هغۀ پۀ شپږمه مرحله باندې ودرولے شي، دلته به د ګاؤنډيانو پۀ باره کښې پوښتنه کيږي، پوښتنه به کولے شي چې آيا د ګاؤنډيانو سره دې ښه سلوک وکړو که نه؟ که کړے يـې وي نو انسان به پۀ پلِ صِراط باندې تير شي، ګني پۀ هلاکت کښې به اخته شي. (3)

معلومه شوه چې پۀ پلِ صِراط باندې د تيريدلو او جنّت ته د رسيدلو د پاره د ګاؤنډيانو سره ښه سلوک کول هم ډير ضروري دے، ګني نو پۀ پلِ صِراط به اوړيدے نشي.

## د ايمان د کمال د پاره ضروري عمل

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پۀ اِسلام کښې ګاؤنډي له ډير اهميت ورکړے شوے دے، تر دې پورې چې هغه اعمال د کومو پۀ ذريعه چې زمونږه ايمان کامِل کيږي، پۀ هغې کښې د ګاؤنډيانو سره ښه سلوک هم شامل کړے شوے دے يعني مونږه تر هغه

1… غیبت کی تباہ کاریاں، صفحه:26۔
2… وسائلِ فِردَوس، صفحه:9، 10 ملتقطاً۔
3… بستان الواعظین، مجلس فی ذکر المیزان و الصراط، صفحه:90۔

وخته پورې كامِل مؤمِن نشو جوړيدے تر څو پورې چې د ګاؤنډيانو حقونه ادا نكړو. د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ لَّا يَاْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ هغه بنده (كامِل) مؤمِن نۀ دے د چا ګاؤنډي چې د هغۀ د شَر نه **محفوظ** نۀ وي. [1]

## هغۀ ايمان والا نشي كيدے...

يو ځل د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې كرته پۀ **الله پاک** باندې قَسم وخوړلو، اوئې فرمائيل: وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ پۀ **الله پاک** باندې مې دې قَسم وي! هغۀ مؤمِن نشي كيدے وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ پۀ **الله پاک** باندې مې دې قَسم وي! هغۀ مؤمِن نشي كيدے وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ پۀ **الله پاک** باندې مې دې قَسم وي! هغۀ مؤمِن نشي كيدے. صحابۀ كرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عرض وكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! څوک مؤمِن نشي كيدے؟ اوئې فرمائيل: اَلَّذِیْ لَا يَاْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ هغۀ د چا ګاونډي چې د هغۀ د شَر نه **محفوظ** نۀ وي. [2]

خير خواه ہم بھی پڑوسی کے بنیں | یہ کرم یا مصطفےٰ فرمائیے!
نعمتِ اخلاق کر دیجئے عطا | یہ کرم یا مصطفےٰ فرمائیے!

## ګاؤنډيانو ته ضرر رسوونكې عبادت ګزاره زنانه

اِمامِ بُخاري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ حديثِ پاک نقل كړے دے چې يو ځل د **الله پاک** د خوږ او اخري نبي، مكي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت كښې عرض وكړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! فلانكۍ زنانه ټوله شپه عبادت كوي، د ورځې روژه نيسي، ډيره ديناداره ده، صدقه خيرات هم ډير كوي خو هغۀ پۀ خپله ژبه ګاؤنډيانو ته تكليف رسوي. خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ

1...مسند بزار، جلد:16، صفحہ:215، حدیث:9362۔
2...بخاری، کتاب:الادب، صفحہ:1500، حدیث:6016۔

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: لَا خَيْرَ فِيْهَا پهٔ هغې كښې هيڅ خير نشته هِیَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ هغهٔ پهٔ دوزخيانو كښې ده. صحابهٔ كرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د يوې بلې زنانه ذِكر وكړو او عرض يې وكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فلانكۍ زنانه فرض نمونځونه كوي، پنير صدقه كوي او چا ته هم تكليف نهٔ رسوي. ارشاد يې وفرمائيلو: هِیَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ هغهٔ جنّتي زنانه ده. (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** نن پهٔ دې حديثِ پاک باندې بيا بيا د غور كولو حاجت دے...! لږ سوچ خو وكړئ چې څوک خپلو ګاؤنډيانو ته تكليف رسوي، هغهٔ څومره پهٔ نقصان كښې دے خو افسوس چې دلته د دې خبرې خيال هم نهٔ ساتلے كيږي ❁ خلق د خپل كور ګند وړي او د ګاؤنډيانو د دروازې مخې ته يې ږدي ❁ پهٔ كور كښې وخت نا وخته درز غوبل كوي ❁ شور كوي او د دې خبرې هډو پروا هم نهٔ كوي چې زمونږ د شور سره ګاؤنډي ته تكليف رسيدے شي ❁ كه د چا كره واده ښادي وي، نو بيا خو لكه چې د ګاؤنډيانو خوبونه حرام شول، يو خو د سندرو سازونو ګناه، د پاڅه پرې غټې سپيكرې كيږدي او پهٔ تيز اواز يې غږوي، كه چا ته تكليف رَسي، د چا خوب حراميږي، څوک بيماري وي، هغهٔ ته تكليف وي، د وړو ماشومانو نه خوبونه تښتي، د دوئي پرې هيڅ پروا نهٔ وي ❁ بعضې خلق د شپې پهٔ كور كښې داسې كار شروع كړي چې د هغې سره شور پيدا كيږي. د ګاونډيانو خوب خرابيږي. داسې كارونه كول نهٔ دي پكار، د پاره د دې چې ګاؤنډيانو ته تكليف ونهٔ رسي.

پڑوسی کو بھائی! نہ ہر گز ستانا | وگرنہ جہنّم بنے گا ٹھکانا

## د ګاؤنډيانو چيلۍ ته هم تكليف مهٔ رسوئ...!

د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت اُمِّ سلمه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: د يو ګاؤنډي

---

1...الادب المفرد، صفحه:48، حديث:119۔

چیلۍ زمونږ کور ته راغله او هغې ډوډۍ پهٔ خُله کړه، زۀ په چیلۍ پسې ورغلم او د چیلۍ د داړو نه ډوډۍ راښکله. سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زۀ پهٔ داسې کولو ولیدم او اوئې فرمائیل: **اے اُمِّ سلمه! چیلۍ ته تکلیف ورکول به تا ته امان در نکړي ځکه چې دا هم ګاؤنډي ته د تکلیف رسولو نه څۀ کم نۀ دي.** (1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! **الله پاک** دې زمونږه پهٔ بزرګانو باندې رحمت نازل کړي، دوئې د تقویٰ او د پرهیزګارۍ څنګه څنګه مثالونه قائم کړي دي، آه! نن سبا خو دلته د ګاؤنډیانو د پاره هُغه څۀ خوښولے کیږي کوم چې ځان له نۀ خوښولے کیږي ❁ پهٔ خپل کور کښې ګند کیښودل څوک خوښوي؟ که د کچرې بکس لرې وي نو د ګاؤنډي پهٔ دروازه کښې کیښودلے کیږي ❁ زنانه د کور فرش وینځي، ظاهره ده چې سخا اوبه خو د کور پهٔ دالان کښې جمع کیدل نۀ خوښوي، ځکه پهٔ کوڅه کښې توئیولے شي، پهٔ کومونه چې پهٔ کوڅه کښې خَټې هم جوړې شي، تیریدونکي پهٔ تکلیف کښې وي. داسې او نور ډېر صورتونه دي خلق د ځان د پاره هُغه څیزونه نۀ خوښوي خو ګاؤنډیان پهٔ دې کښې اخته کوي. کاش چې مونږه پوهه شو چې د ګاونډیانو معامله څومره زیریکه ده.

خیر خواه ہم بھی پڑوسی کے بنیں | یہ کرم یا مصطفٰے فرمایئے!
نعمتِ اخلاق کر دیجئے عطا | یہ کرم یا مصطفٰے فرمایئے!

**الله پاک** دې مونږ ته د ښه ګاؤنډي جوړیدو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (7): پهٔ اوومه مرحله به د رښتیاؤ او دروغو پوښتنه کیږي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د پلِ صِراط پهٔ اخرۍ یعنې اوومه مرحله باندې به د

1...مکارم الاخلاق للطبرانی، صفحہ:395، حدیث:239۔

صِدق يعنې رښتياؤ پهٔ باره کښې پوښتنه کيږي، دلته به پوښتنه کيږي چې آيا تا به رښتيا وئيل که نه؟ که جواب پهٔ ښه کښې شو نو پهٔ پلِ صراط به واوړي، که بنده دروغژن وي نو ګير به شي. [1]

څکه د رښتياؤ وئيلو عادت جوړ کړئ! هميشه رښتيا وايئ! د دروغو خلاف د جنګ پوخ اِعلان وکړئ!

## د دروغو نه بچ اوسئ...!

**الله پاک** پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ (پاره:17، سورۂ حج:30) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او دروغ خبرې نه ډېره کوئ. |

## دروغ دوزخ ته بوتلل کوي

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** رښتيا وئيل نيکي ده او نيکي جنَّت ته بوتلل کوي او دروغ وئيل فِسق او فُجُور دے او فِسق او فُجُور (ګناه) دوزخ ته بوتلل کوي . [2]

بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته يو کَس حاضر شو او پوښتنه يې وکړه: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دوزخ ته بوتللو والا عمل کوم يو دے؟ اوئې فرمائيل: دروغ وئيل، بنده چې کله دروغ وائي نو ګناه کوي او چې کله ګناه کوي نو نا شُکري کوي او چې کله نا شُکري کوي نو دوزخ ته داخليږي. [3]

| | |
|---|---|
| ہائے نافرمانیاں بدکاریاں بے باکیاں | آہ! نامے میں گناہوں کی بڑی بھرمار ہے |

1...بستانُ الواعظین، مجلس فی ذکر المیزان و الصراط، صفحه:94۔

2...مسلم، کتاب البر و الصلة و الادب، باب قبح الکذب...الخ، صفحه:1007، حدیث:2607۔

3...مسند احمد، جلد:3، صفحه:571، حدیث:6800۔

زِندگی کی شام ڈھلتی جارہی ہے ہائے نَفْس! | گرم روز و شَب گناہوں کا ہی بس بازار ہے[1]

## د دروغو دردناک عذاب

د **الله پاک** اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: په خوب کښې یو ګس زما خوا له راغلو او اوئې وئیل: راځئ! زهٔ د هغهٔ سره روان شوم، ما دوه ګسان ولیدل، په هغوئي کښې یو ولاړ او بَل ناست وو، د ولاړ ګس په لاس کښې د اوسپنې یو اوزار وو، کوم چې به هغهٔ د ناست ګس په داړو(جامو) کښې اچولو او هغه به یې د څټ پورې شلوله، بیا به یې راویستو او په بله داړه(جامه) کښې به یې واچولو او شلوله به یې، په دې کښې به وړومبۍ داړه(جامه) خپل اصلي حالت ته راتلله، ما د راوستونکي ګس نه پوښتنه وکړه: دا څهٔ دي؟ هغهٔ ووئیل: دا دروغژن ګس دے، دهٔ ته به تر قیامته پورې په قبر کښې هم دا عذاب ورکولے کیږي. [2]

لږ غور وکړئ چې په دُنیا کښې د داړو(جامو) درد نهٔ برداشت کوونکے به په اخرت کښې د داړو د شلولو تکلیف څنګه برداشت کړے شي؟ په دُنیا کښې د یو ماشي په چیچلو نا قلاره کیدلو والا به د دروغو وئیلو په وجه په قبر کښې دا ورکړے کیدونکے عذاب څنګه برداشت کړے شي؟

لهذا مونږ له پکار دي چې همیشه رښتیا وایو، د دروغو نه همیشه ځان ساتو. **الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د بیان خُلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږه د پلِ صِراط بیان واوریدو، خاص طور 7 قِسمه

1...وسائلِ بخشش، صفحه:478۔

2...شرح السنة للبغوی، کتاب البیوع، باب وعید اکل الربا، جلد:5، صفحه:39، حدیث:2053۔

ګناهونه دي کوم چې پهٔ پلِ صِراط باندې راګیرولے شي (1): نـمونځ نهٔ کول (2): پهٔ امانت کښې خیانت کول (3): د خپلوانو سره خراب سلوک کول او رشتې ماتول (4): د مور پلار ادب نهٔ کول (5): پهٔ ژبه د ګناهونو نه ډکې خبرې کول (6): د ګاؤنډې حقونه نهٔ ادا کول (7): دروغ وئیل. **الله پاک** دې مونږه د دې ټولو ګناهونو نه **محفوظ** کړي. کاش چې پهٔ پلِ صِراط پهٔ اسانۍ سره تیریدل او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت پهٔ وسیله جنَّت ته تلل مو نصیب شي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## پهٔ پلِ صِراط باندې د اسانتیا سبب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحْسَنَ الصَّدَقَةَ فِي الدُّنْيَا جَازَ عَلَى الصِراط چا چې پهٔ دُنیا کښې پهٔ ښه طریقه صدقه ورکړه هغهٔ به پهٔ پلِ صِراط (پهٔ اسانۍ سره) تیر شي. (1)

که مونږه هم پهٔ پلِ صِراط باندې پهٔ اسانۍ سره د تیریدلو خواش لرو نو مونږ ته د صدقې ورکولو عادت جوړول پکار دے. د صدقې ورکولو ډیر فضائل دي: ❁ صدقه د ګناهونو 70 دروازې بندوي ❁ صدقه ورکوونکے به د قیامت پهٔ ورځ د خپلې صدقې پهٔ سورې کښې وي.

صدقه د قبر د ګرمۍ نه بچ کول کوي ❁ صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چې اوبه وور مړ کوي ❁ صدقه افتونه، بلاګانې منع کوي ❁ صدقه عمر زیاتوي ❁ صدقه بد مرګ او د بدې خاتمې نه بچ کول کوي ❁ صدقه د **الله پاک** غضب سَړوي ❁ صدقه پهٔ رزق کښې د فراختیا او د مال د کثرت سبب جوړیږي ❁ صدقه غریبي او

1...حلیة الاولیا، جلد:3، صفحه:256، حدیث:3874۔

لاچارې ختموي. [1] غرض دا چې صدقه د ډېرو نيکو دروازې برسېره کوي او د ډېرو ګناهونو دروازې بندوي. ځکه مونږ له ښه ډېره صدقه او خيرات کول او د قبر او د اخرت د بهترۍ ذريعه جوړول پکار دي.

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه په زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❀ د کنزُ الـمدارس بورډ په نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❀ تقريباً **د 16500 نه زيات** جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ماشومانو د پاره قائم دي، په کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، فرض علوم کورسز کولے شي ❀ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زياته **5 لاکهه 30 زره** دہ ❀ د زيات عمر اِسلامي ورونو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً د **74 زره 887** مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي په کومو کښې چې د لوستونکو شميره د **4 لاکهه 26 زره** نه زياته ده ❀ د فيضان آن لائن اکيډمۍ په ذريعه تقريباً 24 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي ❀ اوسه پورې تقريباً **21 دار الافتاء اهلسنت** جوړ کړے شوي دي په کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې اوسطاً **20 زره** ده ❀ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** په ذريعه په ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې په **1784 کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے، په دې شعبه کښې ګڼ شمير مَدَني علمائے کرام فريضې ترسره کوي، د **الله پاک** په کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته

---

1...صدقے کا انعام، صفحہ: 17تا19 ملتقطاً-

باقاعده تنخواګانې ورکوي ❀ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره **مکـتبة الـمدينه** جوړه کړې ده، چرته چې پۀ بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسيمِ رسائل (يعنې د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسيمولو) سلسله هم وي ❀ پۀ ټوله دُنيا کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❀ د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعنې د ګټې نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❀ د ميډيا مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❀ پرنټ ميډيا (يعنې ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت پۀ **7 مختلفو ژبو کښې** چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنی [يعنې ماهنامه ده پۀ ذريعه) ❀ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب (***YouTube***)، فيس بک (***Facebook***)، انسټاګرام (***Instagram***) وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټ، پۀ کومو باندې چې) تقريباً 50 ملين (***Million***) يعنې 5 کروړه فالورز (***Followers***) دي او د ويوز شميره د بلينز (***Billions***) يعنې د 100 کروړه نه هم زياتو پورې رسيدلې ده. ❀ او مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربیٰ د ويب چينل پۀ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❀ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32 موبائل ايپلي کيشن** او **40 اِسلامک ويب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❀ پۀ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهیٔ د پاره د ايف جي آر ايف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❀ **34 لاکهه 16 زره 673** وَنې نالې کړے شوې دي ❀ تقريباً د **76 لاکهه 82 زره 958** کَسانو امداد شوے دے ❀ **5 زره 566** کورونه جوړ کړے شوي دي ❀ **75 زره 721**

د وینې ډراپونه عطیه کړے شوي دي ❁ هیلتھ کئیر سنټر ته اوسه پورې د **61** زره **667** مریضان راغلي دي.

**تاسو هم د دین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خیر ښیګړې په کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتیدونکې خرچې پوره کړے شي.**

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## لیــلةُ الــجائِزه (د اختر په شپه) کښې د عبادت ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** آه...!! د روژې میاشت زمونږ نه جُدا کیږي، د لوئي شان میاشت مونږه پریږدي، د دې مبارکې میاشت هر سعت د رحمت نه ډک دے، **اللّٰه پاک** که یو خوا مونږ ته د لیــلةُ الــقدر په شان عظیمه شپه عطا کړې ده نو بل خوا یــې د دې مبارکې میاشت نه فوراً پس لیــلةُ الــجائِزه یعني د انعام شپه هم عطا کړې ده ❁ په دې شپه باندې **اللّٰه پاک** خپل رحمتونه نازلوي ❁ دا د بخښنې شپه ده ❁ دا شپه د خپل رَبّ د عبادت کولو شپه ده چې کوم بنده په دې شپه باندې د **اللّٰه پاک** عبادت کوي **اللّٰه پاک** د هغهٔ د پاره جنَّت واجب کوي. [1] ❁ کوم بنده چې دا شپه د **اللّٰه پاک** په عبادت کښې تیره کړي **اللّٰه پاک** به د هغهٔ زړهٔ نهٔ مړ کوي. **په حدیثِ پاک کښې دي**: چا چې د عیدین (یعني د وړوکي اختر او د غټ اختر) په شپه د ثواب د طلب د پاره قیام وکړو، په

1...الترغیب و الترہیب، کتاب العیدین، الترغیب فی احیاء لیلتی العیدین، صفحہ:373، حدیث:2۔

هغه ورځ به د هغهٔ زړهٔ نهٔ مړ کيږي، پهٔ کومه ورځ چې به (د خلقو) زړونه مړه کيږي. [1]

❁ ټولو عاشقانِ رسول خاص طور اعتکاف کوونکو ته پکار دي چې دا شپه پهٔ جوماتونو کښې د **الله پاک** پهٔ عبادت کښې تيره کړي چې حضرت ابراهيم نَخَعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: بزرګانِ دِين رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم به د اِعتکاف کوونکو د پاره دا خبره خوښوله چې د وړوکي اختر شپه هم پهٔ جومات کښې تيره کړي. [2]

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغيب

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف نه پس شوال شريف راتلونکے دے. خوش قِسمته مسلمانان پهٔ دې مياشت کښې د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو نيولو سعادت حاصلوي. راځئ چې د دې روژو فضائل واورو چې د دې روژو د نيولو او د دې د برکتونو نه د فيض حاصلولو ذهن مو جوړ شي، نو ❁ **پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** چا چې د رمضان روژې ونيولې، بيا يې 6 ورځې پهٔ شوال کښې روژې ونيولې نو د ګناهونو نه داسې ووتلو لکه چې هم نن د مور د خېټې نه پيدا شوے وي. [3] ❁ چا چې د رمضان روژې ونيولې، بيا يې د هغې نه پس پهٔ شوال کښې 6 روژې ونيولې. نو داسې ده چې لکه ټول عمر يې روژې ونيولې. [4] ❁ خَليلِ مِلَّت مفتي محمد خليل خان برکاتي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې ونيولے شي نو بيا پکښې هم څهٔ باک نشته او بهتره دا ده چې پهٔ هره هفته کښې دوه روژې او د اختر پهٔ دويمه ورځ يوه روژه ونيسي او که پهٔ ټوله مياشت کښې يې ونيسي نو نور هم مناسب معلوميږي. [5]

1...ابن ماجه، کتاب الصيام، باب فيمن قام فى ليلتى العيدين، صفحه:284، حديث:1782۔
2...فيضانِ رمضان، صفحه:279، 280۔
3...مجمع الزوائد، کتاب الصيام، باب فيمن صام ...الخ، جلد:3، صفحه:322، حديث:5102۔
4...مسلم، کتاب الصيام، باب استحباب صوم...الخ، صفحه:424، حديث:1164۔
5...سنى بهشتى زيور، صفحه:347۔

## د اختر پهٔ شپه پهٔ قافلو کښې د سفر کولو ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف میاشت اوس د لږ وخت میلمنه ده او ډېره زر رخصتیدونکې ده. بیا به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د اختر شپه راشي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! هر کال د اعتکاف سعادت حاصلوونکي خوش قِسمته اِسلامي وروڼه او د نورو عاشقانِ رسول یوه شمیره **د ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح د کوشش** د مقدسې جذبې لاندې پهٔ دې شپه د قافلو مسافر جوړیږي. هسې خو دا ډېر ګران کار دے خو یاد ساتئ چې د نیکۍ دعوت ورکول او پهٔ دې لاره کښې مشقت کول د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام سُنَّت دي ✿ انبیائے کرام عَلَیهِمُ السَّلام ✿ صحابهٔ کرام عَلَیهِمُ الرِّضوَان ✿ نیکان خلق به د نیکۍ د دعوت ورکولو د پاره د کورونو نه وَتل ✿ لرې لرې علاقو ته به تلل ✿ هجرت به یې کولو او ✿ پهٔ مشقت سره به یې د دِین پیغام عام کولو ✿ د مخکښینو خلقو پهٔ قربانو مونږ ته دِین رارسیدلے دے.

تاسو هم د اختر د شپې نه پهٔ قافله کښې د سفر کولو نیت وکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډېر برکتونه به مو نصیب شي ✿ پهٔ قافله کښې فرض عِلمِ دِین ښودلے کیږي ✿ سُنَّت ښودلے کیږي ✿ د تهجدو کولو سعادت نصیب کیږي ✿ د نیکۍ د دعوت عام کولو موقع میلاؤیږي ✿ د قافلې پهٔ برکت د دعاګانو د قبلیدو ✿ د مشکلاتو د لرې کیدو ✿ د بیمارو نه د شِفا میلاؤیدو هم پهٔ سوونو واقعات دي ✿ داسې هم شوي دي چې پهٔ قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګیرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائیلے دے، پهٔ خوب کښې یې تشریف راوړے دے او پهٔ قافله کښې شرکت کوونکو ته یې دیدن ورکړے دے. **الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نوے ژوند

د يو مزدور ګُردې فيل شوې. خپلوانو په اسپتال کښې داخل کړو. د هغهٔ لوفر خوريے د تپوس د پاره راغلو. د ماما جان يـې اخري وخت وو. د هغهٔ زړهٔ راډک شو او د سترګو نه يـې اوښکې رواني شوې. هغهٔ اوريدلي وو چې د دعوتِ اِسلامي په قافله کښې د سفر په وخت دعاګانې قبليږي. نو هغهٔ په قافله کښې په سفر باندې روان شو او ښه په ژړا ژړا يـې د ماما جان د شِفا د پاره دُعا وکړه. چې کله راواپس شو نو ماما جان يـې روغ شوے وو او کور ته هم راغلے وو او بيا د نـمونځ د پاره د کور نه وتلے وو او د جومات طرف ته روان وو. دا د رحمت نه ډک منظر چې يـې وليدلو نو هغه زلمي د ګناهونو د ډک ژوند نه توبه کړه او نيک نـمونځ ګزاره جوړ شو.

مرض گمبھیر ہو، گر چہ دِلگیر ہو | ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو
غم کے بادَل چھٹیں اور خوشیاں ملیں | دل کی کَلیاں کھلیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن په نوم د "فيضانِ حديث" په ***Play* Store** او **App Store** باندې وړاندې کړے شوے دے. په دې ايپلي کيشن کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ✿ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ✿ الأربَعِيْنِ النّوويَّه د اُردو ترجمې او شرحې سره ✿ رِياضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ✿ أربَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ✿ مُنْتَخَب اَحَادِيث (اُردو)، او اَنْوَارُ الْحَدِيْث (اُردو) شامل کړے شوي دي.

✿ د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو حديثونه مبارک په کتابي شکل کښې (يعنې د

جلدونو پۀ لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو پۀ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❀ د سرچ آپشن [يعنې د لټولو آپشن] پۀ مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ. ❀ پۀ دې کښې د حديثِ پاک د عربی متن د اعراب سره او د اعراب نه بغير، پۀ دواړه قِسم د کتلو سهولت کېښودے شوے دے ❀ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❀ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حديثونو د شيئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے.

هم نن پۀ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مختصر شرح بخاري اِعلان

مکتبةُ المدينه وړاندې کوي: مختصر شرح صحيح بخاري پۀ نوم د **ضِيَاءُ الْقَارِی شرح مختصرصحيح بخاری**، ډېره ښکلې او معلوماتي شرح ده، د حديثونو د عاشقانو د پاره د دې وړومبے جلد د مکتبة المدينه د طرف نه پيش کړے شوے دے. دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې خانګې نه پۀ **1700 روپی** پۀ بيعه واخلئ! پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جنّت کښې زما سره وي. (1)

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دعا كول سُنَّت مصطفٰى دي

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ دُعَا د مؤمِن وسله ده-[1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دعا كول **سُنَّتِ مصطفٰى** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي ۞ زمونږه خوږ آقا، صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په كثرت سره دعاګانې كولې ۞ بعضو مُحَدِّثینو د سركارِ عالی وقار، مکی مدنی تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مباركو دُعاګانو په باره كښې پوره پوره كتابونه هُم لیكلي دي، مثلاً د خوراک كولو دُعاء، د اوبو څښلو دُعاء، د اوده كیدو د وخت دُعاء، د خوب نه د رابیداریدلو وخت كښې وئیلو والا دُعاء، د شودو څښلو دُعاء، د جامو اغوستلو دُعاء- غرض دا چې زمونږه خوږ خوږ آقا، مکی مدنی مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د روزانه كارونو نه مخكښې او روسته دعاګانې وئیلې ۞ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دا دعا په كثرت سره كوله: [2]

رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً (پارہ:2،سورۃ البقرۃ:201)

**تَرجمه:** اے زمونږه ربه! مونږ ته په دنیا كښې خیر راكړې او مونږ ته په آخرت كښې (هُم) خیر راكړې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده كولو د پاره د مكتبة المدينه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر

1...مسند ابی یعلی، جلد:2، صفحہ:123، حدیث:1812۔
2...بخاری، کتاب:الدعوات، صفحہ:1574، حدیث:6389۔

16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

علم حاصل کر، جہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں، قافلے میں چلو
سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد